بسم الله الرحمن الرحيم

# د اهل سنت والجماعت عقائد

## لیکوال

د اسلام متکلم او مناظر مولانا محمد الیاس گمن
مدظله العالی

## ژباړن

میرآغا ستانکزی

## ﴿لمړی چاپ﴾

د۱۴۳۷سپوږمیز هجري کال د محرم میاشت، چې د ۱۳۹۴لمریز
هجري کال د عقرب له میاشتې، او د ۲۰۱۵زیږدیز کال
د نوامبر له میاشتې سره سمون خوري

﴿شمېر ۲۰۰۰ ټوکه﴾

د ژباړن لخوا ټولو مسلمانانو ته اجازه ده ترڅو دغه کتاب په متن
کې د بدلون نه راوستلو په شرط سره چاپ او خپور کړي.

تاسې کولای شئ د دې کتاب نوی چمتو شوي متن د PDF په بڼه
زمونږ لدې ویب پاڼې څخه ترلاسه کړئ:

www.afghanicc.com/books

یا له دې (email) پتې څخه یې ترلاسه کړئ:

miteymori@gmail.com
miraghastanikzai@gmail.com

یا هم د تیلیفون، واتس اپ او تلګرام لدې شمېرې سره اړیکه ونیسئ:

۰۰۴۴۷۷۷۶۰۰۳۱۳۷

بسم الله الرحمن الرحيم

## ﴾ د درې ژبې د ژباړن عرض ﴿

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ وَ كَفي وَ سَلَامٌ عَلي عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفي. اَمَّا بَعْدُ!

کله چې د اسلام په سپېڅلي دين کې باطلې ډلې رامنځته شوې او هر يو په خپل وار سره ځانونه حق وبلل او خپلې باطلې عقيدې يې د اهل سنت والجماعت د عقائدو تر نامه لاندې په خلکو کې خورې کړې، د اهل سنت والجماعت هغه لمړنی امام چې ددې لارورکو ډلو د ناوړو عقائدو، چل او دهوکو څخه د ساده خلکو د ايمان د خوندي ساتلو په موخه ، د اهل سنت والجماعت د عقائدو په هکله يو کتاب وليکل حضرت امام اعظم ابوحنيفه نعمان بن ثابت رحمه الله (مړ۱۵۰هـ) و و چې د الفقه الاکبر او همداسې د الفقه الابسط، العالم والمتعلم، رسالة الوصيه ، رساله بتي په نومونو يې داسې نورې رسالې وليکلې.

دغه کتابونه او رسالې د اهل سنت والجماعت په منځ کې په ليکلي او روايتي بڼو خپاره شول او لوی فقيه او محدث مجتهد امام ابوجعفر طحاوی رحمه الله (مړ۳۲۱ هـ ق) دغه روايتونه د « بيان اعتقاد اهل السنة والجماعة على مذهب فقهاء الملة ابی حنيفة النعمان بن ثابت الکوفی، وابی يوسف يعقوب بن ابراهيم الانصاری، ابی عبدالله محمد بن

الحسن الشيباني رضوان الله عليهم اجمعين » يعني د امت د فقهاو و امام اعظم ابو حنيفه نعمان بن ثابت كوفي، امام ابو يوسف يعقوب بن ابراهيم انصاري او امام ابو عبد الله محمد بن حسن شيباني رضوان الله تعالى عليهم اجمعين د مذهب پر بنسټ د اهل سنت او جماعت ډلې د اعتقاداتو د روښانولو» په نامه راټول كړل چې له هغه وخت څخه تر اوسه پورې د اهل سنت والجماعت د عقيدې له خورا مهمو كتابونو څخه شمېرل كيږي. دغه كتاب د « العقيدة الطحاوية » په نامه سره مشهور دی چې په دري ژبه كې د عقيده طحاوي په نامه ياديږي.

ددې كتاب له ليكلو څخه وروسته، په نړۍ كې د اهل سنت والجماعت د عقيدې اړوند كتابونو د ليكلو يوه اوږده لړۍ پيل شوه چې تر اوسه پورې هم ادامه لري.

خو هغه څه چې ددې وروستۍ زماني په پړاو كې مهمه ده، او مونږ يې وهڅولو ترڅو د اهل سنت والجماعت د عقايدو بيانولو ته ځير شو، دا دی چې د حضرت امام اعظم رحمه الله د زماني په څېر ځيني لاروركي او باطلي ډلې رامنځته شوي دي چې د اهل سنت والجماعت تر نامه لاندې خپلې باطلې عقيدې خوروي.

لدې باطلو ډلو څخه يوه هم د رافضي شيعه ګانو ډله ده چې له ډيرو پېړيو څخه وروسته اوس مهال هڅه كوي ترڅو خپله ډله د اهل سنت والجماعت په نامه سره ونوموي، لكه څرنګه چې ددې لاروركې ډلې ځينو خلكو هم د «الشيعة هم اهل السنة والجماعة» په نامه يو كتاب ليكلی او په زرګونو ټوكونو كې يې خپور كړی دی يعنې اهل سنت والجماعت ګواكې يوازې شيعه

ګان دي.(الشيعة هم اهل السنة والجماعة، د دكتور محمد تيجاني سماوي ليکنه، د ايران په قم کې د انصاريان خپرندويه ټولنه، يوولسم چاپ، ۱۳۸۷لمريز هجري کال)

بله لار ورکه ډله چې د شيعه ګانو په څېر خلکو ته د اهل سنت والجماعت په نامه ځانونه ورپېژني او خپل باطل عقائد د اهل سنت او جماعت تر نامه لاندې خلکو ته وړاندې کوي، هغه نوې رامنځته شوې ډله ده چې يو يا دوه سوه کاله وړاندې په نړۍ کې نه وه، او اوس مهال رامنځته شوېده. دغه نوې رامنځته شوې ډله په هند او پاکستان کې ځانته «اهل حديث» او په عربي ملکونو کې ځانته «سلفي» وايي، خو د هند او پاکستان خلک بيا دوی ته «غيرمقلد» او «وهابي» وايي او په عربي ملکونو کې دوی «خوارج» ، «وهابي» او «لامذهبه» بولي. دغه ډله په افغانستان کې د «وهابي» او «سلفي» په نامه يادېږي.

ددې لارورکې ډلې ګڼو ځانګو د معتزله، کراميه، شيعه، قدريه، مشبهه، مجسمه او داسې نورو پخوانيو لار ورکو ډلو ګڼ شمېر عقائد غوره، او له يو بل سره يو ځای کړي دي او له هغو عقائدو څخه له لاروي څخه وروسته نه يوازې دا چې په دې عقائدو کې د اهل سنت والجماعت له عقائدو سره ټکر لري، بلکه په ډېرو نورو عقائدو کې ددې لارورکې ډلې يوه ځانګه له بلې ځانګې سره هم توپير لري.

ددې لپاره چې ساده مسلمانان ددې نوو رامنځته شوو لاروکو ډلو او ددوی د ځانګو له تضليلاتو څخه وساتو د «اهل سنت او جماعت د عقائد»

کتاب پدې هیله چاپ ته سپارل کیږي تر څو پورې هغه مسلمانان چې دغه کتاب لولي د اهل سنت والجماعت په متوارثو عقائدو وپوهیږي او د اهل سنت والجماعت عقیده زده کړي او پدې ډول خپل ځان، اهل، عیال، دوستان او آشنایان ددې زماني د نوو رامنځته شوو لار ورکو ډلو له تلبیساتو او تزویراتو څخه خوندي وساتي او د دوو نړیو نېکبختي خپله کړي.له متعال خدای ﷻ څخه هیله لرم چې دا له نشت سره برابره هڅه ددې لاندیني بیت مصداق وګرځوي او په خپل بې پایه فضل سره دغه کتاب د خاصو او عامو مسلمانانو د منلو وړ وګرځوي.دا رښتیا ده چې مونږ هیڅ ډول هنر نلرو او له الله ﷻ څخه پرته بل هېچا ته پناه وړلای نشو.

قبول نیست گرچه هنر نیستت

که جز ما پناهی دیگر نیستت

وَصَلَّي اللّٰهُ عَلي مُحَمَّدٍنِ النَبِيّ الْأُمِيّ وَ اَزْوَاجِهِ أُمَّهَاتِ الْمُؤمِنِيْنَ وَ ذُرِّيَّتِهِ وَ اَهْلِ بَيْتِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ. وَ اللّٰهُ هُوَ الْمُوَفِّقُ وَ الْمُعِيْنَ

محمد ابراهیم تیموري

ابن محمد اعظم تیموري، ابن محمد شفیع تیموري، ابن ملک افضل تیموري

د ۱۴۳۷ سپوږمیز هجري کال د صفر میاشت چې د۱۳۹۴ لمریز هجري کال د عقرب له میاشتې او د ۲۰۱۵ زېږدیز کال د نوامبر له میاشتې سره سمون خوري

# فهرس


- د الله تعالی ﷻ شتون ........ ۱۷
- د الله تعالی ﷻ یو والی ........ ۱۷
- د الله تعالی ﷻ د ذات او صفاتو سپېځلتیا ........ ۱۸
- د الله تعالی ﷻ ربښتنولي ........ ۱۹
- د الله تعالی ﷻ عام ځواک ........ ۱۹
- د الله تعالی ﷻ تقدیر ........ ۲۰
- د الله تعالی ﷻ عدل او فضل ........ ۲۱
- الله ﷻ مسبب الاسباب دی ........ ۲۱
- شرک ........ ۲۲
- هغه څو کارونه چې انسان کفر ته باسي ........ ۲۴
- د نبوت حقیقت ........ ۲۶
- د نبوت ربښتنولي ........ ۲۷
- د نبوت دوام ........ ۲۷
- د نبوت پای ته رسېدل ........ ۲۸
- د انبیاؤ عظمت ........ ۲۸
- د رسالت سپکاوی ........ ۲۸
- د انبیاؤ خوب ........ ۲۹
- د انبیاؤ ژوند ........ ۲۹

- د رسول مقبول ﷺ یادول ........................ ۳۰
- د نبي کریم ﷺ د سپېڅلې روضې د زیارت غوره والی ........................ ۳۰
- د مدینې منورې سفر ........................ ۳۱
- درود او سلام ........................ ۳۱
- د عملونو وړاندې کېدل ........................ ۳۲
- د استشفاع مسئله ........................ ۳۲
- د معجزې حقیقت ........................ ۳۲
- د انبیاؤ معجزې ........................ ۳۳
- د نبوت د علومو عظمت ........................ ۳۳
- د نبوت سپکاوی ........................ ۳۴
- ملائکې او فرښتې ........................ ۳۴
- آسماني کتابونه ........................ ۳۵
- د قرآن رښتنوالی ........................ ۳۶
- صحابه کرام رضي الله عنهم ........................ ۳۶
- له صحابه او اهل بیت رضي الله عنهم سره مینه ........................ ۳۷
- د حق او رښتنولۍ معیار ........................ ۳۷
- د امهات المؤمنین عفت ........................ ۳۸
- د صحابه وو رضي الله عنهم مقام ........................ ۳۸
- موعوده راشده خلافت ........................ ۳۹
- د صحابه وو شخړې ........................ ۴۰

حضرت حسین رضي الله عنه پر حقهو و ........................................ ۴۰
د الله جل جلاله دوستان(اولیاء الله) ........................................ ۴۱
ولي ........................................ ۴۱
ولایت ........................................ ۴۱
د اولیاؤ کرامتونه ........................................ ۴۱
تصوف یا له باطني نارو غیو څخه تزکیه ........................................ ۴۲
بیعت ........................................ ۴۲
وسیله جائزه ده ........................................ ۴۳
پیریان ........................................ ۴۳
اجتهاد او تقلید ........................................ ۴۴
اعتقادي او اجتهادي اختلاف ........................................ ۴۵
خلورگوني اصول ........................................ ۴۵
د الله جل جلاله په لاره کې جهاد ........................................ ۴۵
د جهاد ډولونه ........................................ ۴۷
اقدامي جهاد ........................................ ۴۷
دفاعي جهاد ........................................ ۴۸
د جهاد روزنه ........................................ ۴۸
مرگ او له مرگ څخه وروسته ژوند ........................................ ۴۹
قیامت ........................................ ۵۰
د قیامت ورې نښې ........................................ ۵۲

د قيامت لويې نښې ........................................................ ۵۳
(۱) - د حضرت مهدي څرګندېدل: ........................................ ۵۴
(۲) - د دجال راوتل: ........................................................ ۵۵
د دجال د راوتلو وخت ........................................................ ۵۶
(۳) - د عيسى بن مريم عليه السلام کښته کېدل: ................................ ۵۷
حضرت عيسى عليه السلام او حضرت امام مهدي دوه جلا کسان دي ....... ۵۸
يوه شبهه او د هغې لېرې کول ................................................ ۵۹
(٤) - د ياجوج او ماجوج راوتل: ............................................ ۶۰
(٥) - د لوګي راوتل: ........................................................ ۶۲
(٦) - د دابة الارض راوتل: .................................................. ۶۳
(۷) - سوړ باد: ............................................................ ۶۴
(۸) - د حبشيانو تسلط او د کعبې ويجاړتيا: .................................. ۶۴
(۹) - د اور راوتل: .......................................................... ۶۵
پاملرنه .................................................................. ۶۶
د انسان پای اعتبار لري .................................................... ۶۷

# د اهل سنت والجماعت عقائد

## لیکوال

د اسلام متکلم او مناظر مولانا محمد الیاس گمن
مدظله العالی

## ژباړن

## میرآغا ستانکزی

# د ليکوال سريزه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفي وَ سَلَامٌ عَلي عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفي. اَمَّا بَعْدُ!

عقائد په هر دين کې د هغه دين بنسټ جوړوي، او د هر دين پلويان د عقيدې سموالی د خپل بري شرط ګڼي .د اسلام سپېڅلی دين هم د عقائدو په سموالي ډير ټينګار کړی دی او هغه هڅې چې د اسلام د سپېڅلي دين عالمانو د خلکو د عقائدو د سمون لپاره ترسره کړي دي، د هېڅ هوښيار کس له سترګو څخه پټ ندي.حقيقت هم دا دی که چېري يو کس خپل درست عمر د ښو کړنو په ترسره کولو تېر کړي، خو په خپلو ټولو او يا په يوه عقيده کې پر حقه نه وي، د قيامت په ورځ يې ټولې ښې کړنې بېځايه ګڼل کيږي.

زموږ اهل سنت و الجماعت لمړنۍ هڅه دا ده چې مسلمه امت له سمو عقائدو سره آشنا کړو او که چېرې په دې لاره کې باطلې ډلې خنډونه رامنځته کړي، د الله په فضل سره د هغو خنډونو د لېرې کولو همت هم لرو.

ما پدې هکله « د اهل سنت و الجماعت د عقائدو» په نامه يو وړوکی کتاب ليکلی وو چې د اهل سنت و الجماعت د لويانو تصديقونه هم پکې ځای پر ځای شوي وو. نو څرنګه چې هغه کتاب ډير لنډ وو، د اهل سنت والجماعت ځيني نور عقائد مې هم پرې اضافه کړل او ستاسو چوپړ ته يې وړاندې کوم.

د اهل سنت او جماعت د اتحاد لوی ناظم

مولانا محمد الياس ګمن

# د اهل سنت والجماعت عقائد

## د الله تعالی ﷻ شتون

هېڅ شی پخپله منځته نه راځي بلکې د رامنځته کېدلو لپاره یو چا ته اړتیا لري تر څو پورې هغه رامنځته کړي.نو پدې خبره باندې ایمان راوړل اړینه ده، چې دا کائنات هم پخپله منځته راغلي ندي، او داسې یو ذات شته چې دغه کائنات يې منځته راوړي دي او هغه سپېڅلی ذات «اللهﷻ» دی.

## د الله تعالی ﷻ یووالی

متعال خدای ﷻ پخپل ذات او صفاتو کې یو دی، هغه نه د چا پلار دی او نه هم د چا ځوی دی.د کائناتو هره ذره هغه اړ ده او هغه هېچا ته اړتیا نلري.د ټولې نړۍ رامنځته کوونکی او واکمن دی.

## د الله تعالی ﷻ د ذات او صفاتو سپېڅلتیا

متعال خدای ﷻ له جسم او (د لاس، څېرې، پنډۍ، ګوتو او داسې نورو په څېر) له جسماني غړو او ( د خوړلو، څکلو، پورته تللو، کښته کېدلو، منډې وهلو، تللو او داسې نورو په څېر ) د جسم له اړتیاوو څخه سپېڅلی دی.

په قرآن مجید او په نبوي سپېڅلو احادیثو کې، هر ځای چې الله تعالی ﷻ ته د جسماني غړو او یا د مخلوقاتو د صفتونو نسبت شوی دی، هلته د امت په اجماع سره ظاهري او لُغَوي معنی مراد نه ده بلکې هغه د الله تعالی ﷻ د صفتونو ځینې تعبیرات دي.

او د مخکنیو (متقدمینو) علماؤ په وړاندې هغه « د متشابهاتو صفات » دي چې له الله تعالی ﷻ څخه پرته هېڅوک د هغوی په حقیقت او موخه باندې نه پوهېږي . او د وروستنیو (متاخرینو) علماؤ په وړاندې مراد او حقیقت یې د یقین په مقام کې نه بلکې د «ګومان» په مقام کې معلوم دی. د بېلګې په توګه له « یدالله » څخه مراد د متعال خدای ﷻ قدرت دی او له نزول او کښته کېدلو څخه مراد د الله ﷻ د ځانګړې رحمت متوجه کېدل دي.[1]

---

[1] د بیلګې په توګه:په قرآن کریم کې «ید الله» (د الله لاس) راغلی دی او په عربي ژبه کې «ید» ډیرې معناګانې لری. د «ید» یوه معنی دا ده چې «ید» د جسم هغه غړی دی چې له اوږې څخه

## د الله تعالی ﷻ رښتولي

د متعال خدای ﷻ وینا حق او له واقعیت سره سمه ده او ددې پر خلاف د الهي کلام په هکله د یوې ذرې په اندازه داسې عقیده لرل ، شک کول او انګیرل چې د الله ﷻ کلام به درواغ وي، کفر دی.

## د الله تعالی ﷻ عام ځواک

متعال خدای ﷻ قادر دی چې په خپلو پرېکړو کې بدلون راولي، که څه هم هغه په خپلو پرېکړو کې بدلون نه راولي.

---

د ګوتو تر څوکو پورې وی او له غوښې، پوټکی، هډوکی، پلې ،رګونو، وینې او داسې نورو څخه جوړ شوی دی.

او په یقینی ډول پوهیږو چې الله ﷻ جسم نلری تر څو د مخلوقاتو په څیر جسمانی غړی ولری، او له بل پلوه د «ید» حقیقی معنی هم معلومه نده، ځکه چې الله ﷻ په قرآن کې او د هغه نبی ﷺ په خپلو احادیثو کې د «ید» معنی جوته کړې نده، نو پداسې حال کې پر«یدالله» باندې غوره اعتقادی تګلاره دا ده، چې الله تعالیﷻ له جسمانی ظاهری معنی څخه سپیڅلی وګڼو او د «ید» حقیقی معنی الله ﷻ ته وسپارو او د هغه په هکله له خپله ځانه څه ونه وایو.

نو که چیرې د داسې آیتونو او احادیثو ژباړې ته اړتیا ولیدل شی، باید مناسبه معنی ورته بیان کړو.د بیلګې په توګه قوت، ځکه چې په عربی ژبه کې د «ید» بله معنی «قوت» ده، خو بیا هم داسې عقیده باید ولرو چې له ید څخه یقینی مراد قوت دی، ځکه چې دا معنی به د عربی ژبې پر بنسټ یوازې زموږ ګمان وی او یا به هم ممکنه وی چې بل څه وی.

دا یوازې د لویو علماؤ دنده ده او د عامو خلکو لپاره جائزه نده چې پدې هکله له خپله ځانه کومه معنی وټاکی.

# د الله تعالی ﷻ تقدیر

ټول هغه څه چې په دې عالم کې منځته راځي او یا به په راتلونکي کې منځته راشي، د هغو د منځته راتلو څخه مخکې د متعال خدای ﷻ په علم کې موجود وو، او متعال خدای ﷻ هر څه د خپل علم سره سم رامنځته کوي. نو الهي علم ته تقدیر ویل کېږي نه الهي فرمان ته.[1]

---

[1] تقدیر الهی علم ته ویل کیږی، یعنې حق تعالی ﷻله ازل څخه د خلکو له پیدایښت څخه مخکې مقرره کړه چې پلانی شئ به په پلانی وخت کې کیږی، او تر پلانی وخته پورې به ژوندی او یا پاتې کیږی، او پلانی تاثیرونه به ترینه پاتې شی، ددی حد او اندازې تعیینولو ته تقدیر ویل کیږی، او کومې کړنې چې د دې تقدیر پر بنسټ صادریږی هغه ته قضاء وایی.

په لاندینی آسانې بیلګې سره کولای شو چې په تقدیر باندی پوه شو: یو مهندس د یوې ودانۍ د ودانولو لپاره لومړی د هغه نقشه جوړوی، او بیا نقشې ته په پام سره ودانی کوی، د نقشې جوړول د الهی تقدیر بیلګه ده او د نقشې پر بنسټ د ودانی جوړول یې د قضاء بیلګه ده .خو دومره توپیر شته چې د جوړونکی په نقشه کې د تیروتنې امکان او یا په تطبیق کې د تیروتنې امکان شته، او کولای شی د نقشې پر خلاف ودانۍ جوړه کړی.خو په الهی علم کې د تیروتنې امکان هیڅ کله هم منځته نه راځی. د فقیه الامت محمود الحسن ګنګوهی د ملفوظاتو د لمړی ټوک د دریم قسط ۲۸ مخ.

دویم دا چی، پدې باید وپوهیږو چې تقدیر الهی علم دی نه الهی فرمان؛ یعنې دا چې متعال خدای ﷻ په تقدیر کې هیڅکله د یو امر او یا دستور په ډول داسې لیکلی ندی چې پلانی کار باید ترسره شی او پلانی کار دې ترسره نشی، ځکه چې پدې صورت کې د انسان واک او اختیار له مینځه ځی، بلکه تقدیر دا دی چې متعال خدای ﷻ پوهیده چې پلان سړی به پلان کار په خپل اختیار او واک سره سرته رسوی او پلان کار به په خپل اختیار او واک نه ترسره کوی، همدې الهی علم ته تقدیر وایی او ښکاره ده چې پر یو کار باندې د علم لرلو او پر هغه باندې د پوهیدلو په وجه د چا واک او اختیار له مینځه نه ځی.

د بیلګې په توګه:

الله تعالی ﷻ پدې پوهیده (نو په لوح محفوظ کې یې ولیکل): چې خالد به په خپل اختیار، خوښه او قدرت سره ایمان غواړی، او کفر به نه غواړی، او مؤمن به وی، او حامد به په خپل اختیار، خوښه او قدرت سره کفر غواړی، او له ایمان راوړلو څخه به لیرې والی او ډډه وکړی، او کافر به وی. دې ته تقدیر وایی. نو پدې پوه شو چې د تقدیر معنی دا نده چې الله تعالی ﷻ څوک په طاعت او ایمان مجبوروی او یا څوک په کفر او ګناه مجبوروی، العیاذ بالله. شرح الفقه الاکبر للمغنیساوی: ۱۲مخ.

## د الله تعالیﷻ عدل او فضل

څرنگه چې متعال خدای ﷻ د بندګانو خالق دی، د بندګانو د کړنو خالق هم دی.

البته د بندګانو ځینې کړنې ناڅاپه (اضطراري) دي، چې پدې کړنو کې د دوی اراده، اختیار او خوښه دننه نه وي.او د بندګانو ځینې کړنې اختیاري دي، چې د دوی شوق، خوښه یاکرکه او کراهت پکې دننه ده.که چېرې بنده په اختیاري کړنو کې، په خپل اختیار سره کوم نیک کار ترسره کړي، په سرته رسولو یې د اجر او ثواب برخمن کیږي، او که کوم ناوړه کار ترسره کړي، د هغه سزا مومي او دا د الله تعالی ﷻ عدل دی.

که چېرې الله تعالی وغواړي، له خپل فضل نه هر ګنهکار ته ښښنه کوي.له متعال خدایﷻ څخه باید هدایت او ښښنه وغواړو.

## الله ﷻ مسبب الاسباب دی

د هر څه رامنځته کیدل او له منځه تلل، د متعال خدای ﷻ د قدرت په لومه کې دي.د هرڅه شتون او نه شتون، ځانګړتیا او تاثیر هم د هغه تعالیﷻ په خوښه او واک کې دی. هغه مسبب الاسباب دی. د کائناتو اسباب د هغه مخلوق دي، او د اسبابو سبب کېدل او سببیت هم د هغه مخلوق او د هغه د

ارادې تابع دي. په نړۍ کې هېڅ شی پخپل ذات سره مؤثر ندی، نه په لطف او په ثواب کې او نه هم په قهر او په عذاب کې.

که چېرې وغواړي چاته عزت ورکړي، دده رحمت دی.او که چېرې وغواړي چاته ذلت او مصيبت ور په برخه کړي، دا دده حکمت دی. هغه مالک الملک دی. هر چاته چې وغواړي حکومت او اقتدار ور په برخه کوي او له هرچا څخه چې وغواړي، هغه حکومت او اقتدار بېرته ځيني اخلي.

## شرک

شرک دا دی چې له متعال خدای ﷻ سره څوک برابر وګڼې.خو شرک يوازې پدې پورې منحصر ندی چې له متعال خدای ﷻ سره څوک برابر وګڼې، بلکې دا هم شرک دی چې هغه کارونه چې متعال خدای ﷻ خپل والاصفاته ذات ته ځانګړی ګرځولي دي، نورو ته يې هم ثابت وګرځوې، او هغه څه چې الله ﷻ خپلو بندګانو ته د بندګۍ د نښو په توګه ګرځولي دي، نورو ته هم ترسره کړې.

نو شرک څو صورتونه لري:

### ۱

د متعال خدای ﷻ له ذات سره د چا شريک ګرځول:د بېلګې په توګه د عيسائيانو او مجوسيانو په څېر پر دوو او يا پر دوو سربېره، په ډېرو خدايانو ايمان لرل.

۲

پر کومو غیبي کارونو چې په قرآن او په حدیث کې پرې څرګندونې شوی دي، او له متعال خدای ﷻ څخه پرته هېڅ بنده پرې نه پوهېږي، داسې عقیده لرل چې د هغو کارونو علم متعال خدای ﷻ خپل پلاني بنده ته ورکړی دی. د بېلګې توګه دغه علم چې قیامت څه وخت راځي او داسې نور.

۳

د کوم بنده قدرت او تصرف له الهي عطاء ګڼلو سره سره، د هغه بنده په هکله داسې عقیده لرل، چې ګواکې هغه کس د ګتې او زیان په رسولو کې د متعال خدای ﷻ غوښتنې او ارادې پورې تړلی ندی، شرک دی.

همداسې مخلوق ته د رکوع، سجدې او داسې نورو ترسره کولو ته عبادت په نیت نه، بلکې یوازې د درناوي او احترام په موخه «فسقي شرک» ویل کیږي.

همداسې په شرک راوړلو کې ټول مخلوقات له یو بل سره برابر دي.هر هغه کس چې له الله ﷻ سره کوم انسان شریک وګرځوي ( که څه هم هغه کس پیغمبر وی، که ولي ، که څه هم پیری و او یا شیطان او داسې نور) او پورتني شرکي کارونه ورته ترسره کړي، دغه کار شرک دی او سرته رسوونکی به یې مشرک وي.

## هغه ځو کارونه چې انسان کفر ته باسي

ایمان هغه وخت سم دی چې انسان ټول هغه شیان چې الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ ویلي دي ربښتیا او حق وګڼي او ټول ومني .په یو له هغو شیانو کې چې الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ فرمایلي دي، شک کول یا هغه درواغ ګڼل، یا په هغه کې کوم عیب لټول، او یا هم پر هغه پورې ملنډې وهل ، ایمان له منځه وړي.

## عقیده

د قرآن او د حدیث ښکاره او څرګنده معنی نه منل، او هغه ته په خپله خوښه، له خپل ځانه کوم بله معنی جوړول، بې دیني ده.

## عقیده

د ګناه له حلال ګڼلو څخه ایمان له منځه ځي.

لمړی باید د ګناه خواته لاړ نه شو، خو که چېرې ځوک د بدبختی له امله په ګناه اخته شو، نو هرو مرو دې هغه ګناه، ګناه وګڼي، او د هغه ناوړه توب دې له خپل زړه څخه ونه باسې، کنه نو له خپل ایمان څخه دې لاس واخلي.

## عقیده

گناه که هر څومره درنه او لويه وي، ترڅو پورې چې گناهکار کس هغه بد گڼي، ايمان يې د گناه له امله له منځه نه ځي، خو هرو مرو کمزورې کيږي.

## عقیده

له متعال خدای ﷻ څخه بې وېرې کېدل او يا د هغه له رحمت څخه بې هيلې کېدل کفر دی. يعنې که څوک داسې وگڼي چې د آخرت په ورځ هرو مرو لوړ مقام ور په برخه کيږي او له سزا سره به نه مخامخ کيږي يا که څوک د نا هيلېتوب له امله داسې يقين وکړي چې په آخرت کې به هېڅکله ونه بښل شي، دا درست کفري اغلاط دي. مسلمان بايد د هيلې او وېرې تر منځ وي.

## عقیده

له چا څخه د غيبي (له سترگو څخه د پټو) حالونو په هکله پوښتنه او پر هغه باندې يقين کول، کفر دی.

## عقیده

مونږ بايد داسې عقيده ولرو چې له الله ﷻ څخه پرته، پر غيبي حالونو باندې هېڅوک هم نه پوهيږي.

البته ځیني غیبي (له سترګو څخه پټ) کارونه انبیاؤ او د الله ﷻ استازو ته د وحی په واسطه، اولیاؤ ته د کشف او الهام په واسطه، او عامو خلکو ته د قرائنو او نښو په واسطه ښکاره کېږي، خو دې شیانو ته غیب نه ویل کېږي، بلکه دا شیان انباء الغیب (له غیبي شیانو څخه خبر ورکول) دي.

## عقیده

چا ته د هغه د نوم په اخیستلو سره کافر ویل او یا لعنت کول[1] لویه ګناه ده. البته داسې ویلای شو چې پر ظالمانو دې لعنت وي او یا پر درواغجنو دې لعنت وي.

خو پر هغو کسانو باندې چې الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ د هغو د نوم په اخیستلو سره لعنت ویلي دي یا مونږ ته یې د هغوی له کفر څخه خبر راکړی دی، لعنت ویل او ملعون ویل ګناه نه ده.

## د نبوت حقیقت

«نبي» هغه انسان ته ویل کېږي چې د متعال خدای ﷻ له لوري مبعوث شوی وي او له خطا څخه معصوم وي او لاروي یې فرض وي. یعنې دا چې پیغمبر هغه انسان دی چې د الله ﷻ له لوري استول شوی وي،

---

[1] لعنت د الله ﷻ له رحمت څخه د لیرې والي په معنی ده.په پورتنی متن کې د لعنت معنـی دا ده چې څوک داسې دعا وکړی د الله ﷻ لعنت دې پر پلانی وی، او یـا الله ﷻ دې پلانـی لعنـت کړی.

له لويو او وړو ګناهونو څخه سپېڅلي وي ، او د هغه لاروي پر خلکو باندې فرض وي.

له انبياؤ او پيغمبرانو څخه پرته ، بل انسان ته د پورتنيو صفتونو ثابتول که څه هم د «نبي» او د پيغمبر الفاظ ورته ونه کاروي، کفر دی.

## پاملرنه

«نبي» او پيغمبر تل نارينه وي. ښځه هېڅکله د پيغمبر په توګه نه استول کېږي او د پېريانو لپاره هم پيغمبر له انسانانو څخه استول کېږي. نبوت وهبي دی يعنې د متعال خدای ﷻ ورکړه ده.هېڅوک د خپل ډېر عبادت او د خپلې هڅې په واسطه «نبي» کېدلای نشي او نه هم د نبي مقام ته رسېدلای شي.

## د نبوت رښتنولي

له حضرت آدم عليه السلام څخه تر حضرت محمد ﷺ پورې هر څومره پيغمبران چې راغلي دي، ټول پرحقه او رښتوني دي.

## د نبوت دوام

انبياء عليهم السلام له خپلو مړينو څخه وروسته په خپلو مبارکو قبرونو کې په هم هغه حقيقي صورت سره چې له خپلو مړينو څخه مخکې او په خپل ظاهري مبارک ژوندکې نبيان او رسولان وو، انبياء او رسولان دي.

البته اوس د نورو انبیاؤ شریعتونه منسوخ شوي دي او د قیامت تـر ورځې پورې د ژغورنې لاره یوازې د حضرت محمد مصطفی ﷺ شریعت دی.

## د نبوت پای ته رسېدل

حضرت محمد مصطفی ﷺ وروستی پیغمبر او نبي دی. داسې عقیده لرل چې په نړۍ کې اوس مهال کوم ډول نبوت دوام لري، کفر دی.[۱]

## د انبیاؤ عظمت

دکائناتو د مخلوقاتو په منځ کې تر ټولو لوړ مقام د انبیـاؤ علیهم السلام مقـام دی. ځیني انبیاء پر ځینو نورو غـوره دي.او حضـرت رسـول اکـرم محمـد مصطفی ﷺ له ټولو انبیاؤ څخه غوره، اعلی او د ټولو انبیاؤ سردار دی.

---

[۱] د قیامت تر ورځې پورې نه حقیقی پیغمبر او نه هم بروزی (ظلی) پیغمبر راځی او آنحضرت ﷺ د قیامت تر ورځې پورې د انسانانو او د پیریانو پیغمبر دی.هر چا چې له آنحضرت ﷺ څخه وروسته د نبوت ادعا وکړه، درواغجن او کافر دی. لکه څرنګه چې میرزا غلام احمد قادیانی (او بهاء الله) د بروزی نبوت ادعا کړې وه، دوی او د دوی لاروی له همدې امله کافران دی.له قادیانیانو او بهائیانو سره نکاح د هغوی د کفر له امله حرامه ده.قادیانیان د احمدیه ، اهل قرآن او لاهوری جماعت په نامه هم یادیږی.

## د رسالت سپکاوی

د انبیاؤ په شان کې هر ډول بې ادبي او گستاخي یا د انبیاؤ عليهم السلام په شان کې گستاخي جایز گڼل کفر دی.د بېلگې په توگه که چېرې څوک و وایي چې حضرت محمد ﷺ پر مونږ باندې دومره فضیلت لري چې مشر ورور یې پر خپل کشر ورور لري، دغه خبره کفر او بې دیني ده.

## د انبیاؤ خوب

د انبیاؤ سترگې د خوب پر مهال بیدیږي، خو د دوی زړونه بیا هم ویښ وي او پر همدې بنسټ، د انبیاؤ خوب هم د وحی په حکم کې راځي او د هغوی اودس له خوب سره سره پر خپل ځای پاته وي.

## د انبیاؤ ژوند

درست انبیاء عليهم السلام په خپلو مبارکو قبرونو کې له دنیوي جسمونو سره او د روح له تړاو سره سره، له دنیوي لوازمو څخه پرته، او پرته لدې چې په کوم عمل باندې مکلف وي، ژوندي دي.او دغه ژوند د مختلفو اړخونو په اعتبار

سره مختلف نومونه لري. د بېلګې په توګه، دنيوي ژوند، جسماني ژوند، حسي ژوند، برزخي ژوند او روحاني ژوند.

## ﴿ د رسول مقبول ﷺ يادول ﴾

د هغو حالاتو او واقعاتو يادونه چې له جناب حضرت محمد مصطفی ﷺ سره لېږ تړاو لري، خورا په زړه پورې او مستحبه ده.

## ﴿ دنبي کريم ﷺ د سپېڅلي روضې د زيارت غوره والی ﴾

د ځمکې هغه برخه چې د نبي کريم ﷺ له مبارک جسم سره نښتې ده، د کائناتو له درستو ځايونو ښخه ښه، چې له کعبې، عرش او کرسۍ ښخه هم غوره ده.

### ﴿ پاملرنه ﴾

د سپېڅلي روضې د زيارت پر مهال، د نبي کريم ﷺ د مبارکې څېرې خوا ته مخ ګرځول او درېدل، د رسول الله ﷺ د روضې د زيارت له آدابو ښخه ده، او په همدې حالت کې دعاء غوښتل غوره او مستحبه ده.

## د مديني منورې سفر

مديني منورې ته د سفر پر مهال، نبوي جومات او سپېڅلو ځايونو ته د تللو په موخه نيت كول غوره دى او اجر او ثواب لري. البته د سفر پر مهال، په ځانګړې ډول د حضرت رسول اكرم ﷺ د سپېڅلي روضې د زيارت په موخه نيت كول ډېر غوره دي، ځكه چې په دې كار كې د آنحضرت ﷺ درناوى خورا ډېر دى.

## درود او سلام

پر حضرت رسول الله ﷺ درود او سلام ويل، پر مونږ باندې د هغه مبارك حق دى او خورا ډېر اجر او ثواب لري. پر حضرت رسول الله ﷺ باندې زيات درود او سلام، آنحضرت ﷺ ته د نږدې كېدلو او د هغه مبارك د شفاعت د لاسته راوړلو ډېره لويه وسيله ده. ډېر غوره درود هم هغه درود دى چې الفاظ يې له آنحضرت ﷺ څخه نقل شوي دي. تر ټولو غوره درود ابراهيمي درود دي.

## ﴿ پاملرنه ﴾

په ټول ژوندکې د یو ځل لپاره پر نبي کریم ﷺ باندې درود او سلام ویل پر انسان باندې فرض دی.او کله چې په کوم مجلس کې آنحضرت ﷺ یاد شي، په هغه مجلس کې د یو ځل لپاره درود او سلام ویل واجب دی.او هر ځل چې د رسول اکرم ﷺ نوم یادیږي، پر هغه مبارک باندې درود او سلام ویل مستحب دی.

## ﴿ د عملونو وړاندې کیدل ﴾

د امت ښې او بدې کړنې آنحضرت ﷺ ته د هغه مبارک په مبارکه روضه کې، په لنډه توګه وړاندې کیږي.

## ﴿ د استشفاع مسئله ﴾

د آنحضرت ﷺ مبارک قبر ته حاضریدل او له هغه مبارک څخه د شفاعت غوښتنه او داسې ویل چې ای د الله ﷻ رسوله ! د الله ﷻ په وړاندې زما شفاعت وکړه تر څو ما وبښي، جایزه ده.

## د معجزې حقیقت

لکه څرنګه چې معجزه د متعال خدای ﷻ هغه کار دی چې د پیغمبر (نبي) په لاس څرګندیږي او پیغمبر په یوازې ډول پکې کوم اختیار نلري، نو هغه شرک ګڼل او له هغه څخه انکار کول او یا هم له معجزې څخه په خپل غلط ګومان او پوهې سره داسې مطلب اخیستل چې انبیاء او پیغمبران کل مختاره او د مطلق قدرت څښتنان دي، واړه غلط عقاید دي.

## د انبیاؤ معجزې

د انبیاؤ علیهم السلام معجزې حقې دي. د بېلګې په توګه، په مار باندې د حضرت موسی علیه السلام د امساء بدلون، د حضرت عیسی علیه السلام په لاس د مړو ژوندي کېدل او د حضرت محمد مصطفی ﷺ په اشارې سره د سپوږمۍ ټوټې کېدل.

## د نبوت د علومو عظمت

هر نبي په خپله زانه کې پر سپیڅلي شریعت باندې تر ټولو پوه او عالم کَس دی او د نبوت ټول لازمه علوم هر پیغمبر ته ورکول کیږي. څرنګه چې

آنحضرت ﷺ ړومبنی او وروستنی پیغمبر دی، نو هغه ته ړومبني او وروستني علوم او له ټولو مخلوقاتو څخه ډیر علم ورکړل شوی دی.

## د نبوت سپکاوی

داسې عقیده لرل چې ګواکې د پلان کس علم د حضرت رسول اکرم ﷺ له علم څخه ډیر دی، یا د نبوت علوم د نورو علومو او فنونو په پرتله ناڅیزه دي، او یا هم د علم دین لپاره د دین علماؤ ته سپکاوی کول، ټول کفر دي او کفر شمېرل کیږي.

## ملائکې او فرښتې

متعال خدای ﷻ ملائکې له نور څخه جوړې کړي دي. ملائکې زمونږ له سترګو څخه پټې دي. دوی نه نارینه دي او نه هم ښځې دي. د کومې دندې په سرته رسولو چې متعال خدای ﷻ هغوی ګمارلي دي، دوی یې ترسره کوي او په هغه دنده کې د الله تعالی ﷻ نافرماني نه کوي.

د هغوی شمیر یوازې الله ﷻ ته معلوم دی او بس. خو لدوی څخه څلور ملکې مشهورې او الله تعالی ﷻ ته ډیرې نږدې دي: حضرت جبرائیل ؑ. حضرت میکائیل ؑ. حضرت اسرافیل ؑ. حضرت عزرائیل ؑ.[1]

## ﴿ فایده ﴾

انسانانو ته استول شوي پیغمبران، ملائکو ته له استول شو و پیغمبرانو څخه غوره دي او ملائکو ته استول شوي پیغمبران له نورو ملائکو او له انسانانو څخه غوره دي او عامې ملائکې له عامو انسانانو څخه غوره دي.

## ﴿ آسماني کتابونه ﴾

هر هغه کتاب چې متعال خدای ﷻ په یوه زمانه کې په خپل پیغمبر باندې نازل کړی وو، حق او رښتیا وو . څرنګه چې متعال خدای ﷻ پر حضرت موسی ؑ باندې تورات نازل کړ، پر حضرت داود ؑ باندې یې زبور، پر حضرت عیسی ؑ باندې یې انجیل او پر حضرت محمد مصطفی ﷺ باندې یې قرآن مجید نازل کړ.

[1] جبرئیل هغه ملکه ده چې انبیاؤ ته وحی راوړی او میکائیل هغه ملکه ده چې د مخلوقاتو د رزق او روزی د انتظام واکې دده په لاس کې دی. حضرت عزرائیل ؑ د مخلوقاتو د روح اخیستنې دنده لری او هغه ته «ملک الموت» هم وایی. حضرت اسرافیل ؑ په شپیلۍ کې په پو کولو باندې مأمور دی.

البته ځینې آسماني کتابونه منسوخ شوي دي او اوس مهال له آسماني کتابونو څخه یوازې قرآن مجید د قیامت تر ورځې پورې واجب الاتباع او د ژغورنې وسیله ده او بس.

## د قرآن ربښتوالی

د فاتحې له سورې څخه د والناس تر سورې پورې د قرآن مجید هر ټکی خوندي (ساتل شوی) دی. یوازې د قرآن مجید له یوې کلمې څخه نه، بلکې د قرآن له یوه توري څخه انکار او یا د هغه په هکله د تحریف عقیده لرل، کفر دی.

## صحابه کرام رضي الله عنهم

صحابي هغه کس ته ویل کیږي چې د ایمان په حالت کې یې حضرت رسول اکرم ﷺ لیدلی وي او په همدې حالت کې یې له نړۍ څخه سترګې پټې کړي وي.

صحابه کرام رضي الله عنهم د حق او ربښتنولۍ معیار دي. یعنې هغه عقاید او اعمال د منلو وړ دي چې د صحابه کرامو د عقائدو او عملونو پر بنسټ وي. د صحابه کرامو رضي الله عنهم مقام له دې څخه ډیر لوړ دی چې پر هغو باندې کوم ډول نیوکه وشي او هغوی د قبر او د آخرت له هر ډول عذاب څخه خوندي دي.

هغوی معصوم ندي خو هرو مرو محفوظ (خونـدي) دي. يعنـې دا چې د دوی هر ډول ګناه ببنبل شوېده او هغوی يقيناً جنتيان دي.

انبياء عليهم السلام له ګناه څخه معصوم دي او صحابه کرام رضي الله عنهم له خطاء څخه خوندي (محفوظ) دي. د معصوم معنی دا ده چې متعال خدای جل جلاله نه پرېږدي ترڅو له پيغمبر څخه يې کومه ګناه صادره شي او له خطا څخه د خونديتوب معنی دا ده که چيرې له صحابي څخه کومه ګناه صادره شي، خدای جل جلاله هغه ګناه دده په عملنامه کې نه پرېږدي.

## له صحابه ؤ او اهل بيت رضي الله عنهم سره مينه

له صحابه ؤ او اهل بيت رضي الله عنهم سره مينه، له حضـرت رسـول الله صلی الله عليه وسلم سـره د مينې نښه ده او له صحابه ؤ او اهل بيت رضي الله عنهم سره کينه او کرکه لرل يا له دوی څخه له يو سره مينه لرل او له بل سره کرکه لرل، له حضرت رسول الله صلی الله عليه وسلم سره د کينې او بغض نښه ده.

## د حق او رښتنولی معيار

صحابه کرام رضي الله عنهم د درست امـت لپـاره د حـق او رښـتنولی معيـار دي. يعنـې کوم عقائد او مسائل چې د صحابه کرام رضي الله عنهم د عقائدو او مسائلو پر بنسټ

وي، حق دي او کوم عقائد او مسائل چې د صحابه کرام ﷺ د عقائدو او مسائلو پر بنسټ نه وي، باطلې دي او له ګمراهي څخه پرته بل څه نه دي.

## ﴿ د امهات المؤمنین رَضِیَ اللهُ عَنْهُنَّ عفت ﴾

د حضرت رسول الله ﷺ د اهل بیت یعنې په ځانګړې ډول د امهات المؤمنین رَضِیَ اللهُ عَنهُنّ په هکله د هغوی د ایمان او عفت لرلو عقیده اړینه ده.

## ﴿ د صحابه وو ﷺ مقام ﴾

له انبیاؤ څخه وروسته، په انسانانو کې لاندیني لویان، د لاندیني ترتیب پر بنسټ، تر ټولو لوړه مرتبه لري:

﴿۱﴾ د خلافت د ترتیب پر بنسټ راشده خلفاء: یعنې حضرت ابوبکر ﷺ، حضرت عمر ﷺ، حضرت عثمان ﷺ او حضرت علی ﷺ.

﴿۲﴾ عَشَرهٔ مُبَشَّرَه[۱]

﴿۳﴾ اصحاب بدر

﴿۴﴾ اصحاب بیعت رضوان

[۱] حضرت ابوبکر ﷺ، حضرت عمر ﷺ، حضرت عثمان ﷺ، حضرت علی ﷺ، حضرت طلحه ﷺ، حضرت زبیر ﷺ، حضرت سعد بن ابی وقاص ﷺ، حضرت سعید بن زید ﷺ، حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷺ او حضرت ابوعبیده بن جراح ﷺ.

﴿٥﴾ د مکې د سوبې ګډون کوونکي.

﴿٦﴾ هغو اصحاب کرامو چې د مکې له سوبې څخه وروسته اسلام غوره کړ.

د ایمان لرونکو هر څومره صفتونه چې په قرآن مجید کې راغلي دي، ددې ټولو صفتونو تر ټولو وړاندیني او تر ټولو غوره مصداق صحابه کرام رضي الله عنهم دي.

## موعوده راشده خلافت

له حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم څخه وروسته، له ځند څخه پرته ددې امت لمړنی ځای ناستی (خلیفه) حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه دی. دویم خلیفه حضرت عمر فاروق رضي الله عنه، دریم خلیفه حضرت عثمان رضي الله عنه او څلورم خلیفه حضرت علي مرتضی رضي الله عنه دی. دغه څلور واړه لویان راشده خلفاء دي او د دوی د خلافت زمانې ته د راشده خلافت دوره ویل کیږي.

د استخلاف په آیه کې[1] چې د کوم خلافت وعده ورکړل شوې وه، له حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه څخه پیل او په حضرت علی مرتضی رضي الله عنه پای ته رسیږي. نو د راشده خلافت له دورې څخه مراد د څلورګونو

[1] وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ﴿النور: ٥٥﴾

خلفاؤ ﷻ د خلافت دوره ده. د امیر معاويه ﷺ د خلافت دوره د عادله خلافت دوره ده.

## د صحابه وو شخړې

د صحابه وو ﷻ په شخړو کې حضرت علی ﷺ پر حقه وو او دده مخالفين پر خطاء وو.خو دغه خطا عنادي خطا نه وه بلکې اجتهادي خطا وه، او پر اجتهادي خطا د دوی گرم گڼل جايز نـدي ، د دوی پـر اجتهادي خطا باندې چوپتيا واجبه ده.په سپيڅلي حديث کې پر اجتهادي خطا د يو اجر وعده ورکړل شوېده.

## حضرت حسين ﷺ پر حقه وو

د حضرت حسين ﷺ او د يزيد په شخړو کې، حضرت حسين ﷺ پر حقه وو. د يزيد حکومت نه راشده خلافت وو او نه هم عادله خلافت، او حضرت معاويه ﷺ چې د يزيد پلار وو، د خپل ځوی يزيد له عملي فسق څخه بري دی.

# د الله ﷻ دوستان (اولياء الله)

## ولي

«ولي» هغه چا ته ويل کيږي چې له گناهونو څخه ډډه وکړي. د ولي بنستيزه نښه، له سنت څخه لاروي ده. هر څوک چې تر ټولو ډير د سنت پابند وي هومره لوی ولي دی. له ولي څخه د کرامت او کشف څرگنديدل حق دي.

## ولايت

«ولايت» کسبي دی. (لاس ته راوړل کيږي). هر انسان له عبادت کولو سره کولای شي د متعال خدای ﷻ ولي شي.

ولايت د کشف او الهام پر بنسټ نده، بلکې د تقوی او له سنت څخه د لاروي پر بنسټ ده.

# د اولياؤ کرامتونه

د اولياؤ کرامات حق دي. نو څرنگه چې کرامت د متعال خدای ﷻ هغه کار دی چې د ولي پر لاس څرگنديږي او د «ولي» واک او اختيار په يوازې

ډول په کې کوم دخالت نلري، نو د کرامت شرک ګڼل او یا له هغه څخه انکار کول غلط دي.همداسې له کرامت څخه په خپل غلط ګومان او پوهې سره داسې مطلب اخیستل چې اولیاء الله ګواکې په یوازې ډول د اختیاراتو لرونکي دي، ناسمه عقیده ده.

که چېرې له تقوی نه لرونکي کس څخه کوم خارق العاده کار صادر شو، دې کار ته کرامت نه بلکې استدراج ویل کیږي.کرامت د متعال خدای ﷻ له لوري څخه دی او استدراج د شیطان له لوري څخه دی.

## تصوف یا له باطني ناروغیو څخه تزکیه

د روحاني ناروغیو پېژندنې او د هغوی درملنې ته «تصوف» ویل کیږي، چې په قرآن مجید کې له تصوف نه په «تزکیه» او په سپیڅلي حدیث کې له هغه نه د «احسان» په نامه تعبیر شوی دی.

## بیعت

د عقائدو او عملونو اصلاح فرض ده او ددې موخې لپاره د سمې عقیدې لرونکي، د سنت تابع، له نړۍ سره د مینې نه لرونکي ، د آخرت غوښتونکي او د بیعت د اجازې لرونکي شیخ طریقت سره بیعت کول، نه یوازې دا چې مستحبه ده بلکې واجب ته نږدې ده.

## وسیله جائزه ده

متعال خدای ﷻ ته د انبیاءعلیهم السلام او د اولیاؤ وسیله گرځول ( د بېلگې په توگه داسې ویل چې خدایه د پلانکي پیغمبر او یا د پلاني بزرگ [ په توسل، برکت، طفیل او یا حرمت ] زما دغه دعا قبوله کړه) د هغوی په ژوندکې او هم د هغوی له مړینې څخه وروسته جایزه ده ځکه چې د صالحو کسانو وسیله گرځول په حقیقت کې د هغوی پر ښو عملونو باندې وسیله ده او د صالحو عملونو وسیله گرځول د امت په اتفاق سره جایزه ده.

## پېریان

متعال خدای ﷻ له اور څخه داسې مخلوق پیداکړی دی چې هغوی ته «جن» وایي .د هغوی په منځ کې ښه او بد خلک شتون لري . او «جِنات» یا پېریان هم د انسانانو په څېر په شرعي احکامو باندې مکلف دي او له مړینې څخه وروسته د انسانانو په څېر ثواب یا عذابویني.د پېریانو په منځ کې هېڅ پیغمبر مبعوث شوی نه دی.

له پېریانو څخه خورا نامتو او پېژندل شوې څېره لعین ابلیس دی.

ملائکې او پیریان که څه هم زمونږ له سترگو څخه پټ دي، خو بیا هم ددوی

په شتون باندې ایمان لرو، څکه چې متعال خدای ﷻ په قرآن مجید کې او حضرت رسول الله ﷺ په خپلو سپېڅلو احادیثو کې له هغوی څخه یادونه کړېده.

## ﴿اجتهاد او تقلید﴾

د دین بشپړه عملي بڼه د مجتهد اجتهاد او د مجتهد پر اجتهاد باندې عمل کول یعنې تقلید دی، نو مطلق اجتهاد او مطلق تقلید د دین له اړتیاوو څخه دی، چې له هغه څخه انکار کفر دی. البته د څلورګونو امامانو(امام اعظم ابو حنیفة النعمان بن ثابت رحمه الله، امام مالک بن انس رحمه الله، امام محمد بن ادریس شافعی رحمه الله، او امام احمد بن حنبل رحمه الله) له ټاکل شوې فقهې او تقلید څخه انکار ګمراهي ده.

څرنګه چې حق د اهل سنت او جماعت په څلورګونو (حنفي، مالکي، شافعي، حنبلي) مذهبونو پورې منحصره ده، نو د نفس او هوا پرستي په دې زمانه کې ددې څلورګونو امامانو تقلید واجب دی.

## ﴿پاملرنه﴾

مونږ او زمونږ ټول مشایخ، په ټولو اصولو او فروعاتو کې د حضرت امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله مقلدین دي.

## اعتقادي او اجتهادي اختلاف

اعتقادي اختلاف د امت لپاره زحمت دی او د مجتهدینو اجتهادي اختلاف د امت لپاره رحمت او د مقلدینو او مجتهدینو لپاره د اجر او ثواب وړ گرځي. سم اجتهاد دوه اجرونه لري او ناسم اجتهاد پدې شرط سره چې اجتهادکوونکی د اجتهاد وړتیا ولري، د یو اجر لرونکی دی.

## څلورگوني اصول

د اسلام د سپېڅلي دین د عملونو، احکامو او جامعیت لپاره د دې څلورو اصولو یعنې کتاب الله، د رسول الله ﷺ سنت، د امت اجماع او د شرعي قیاس منل اړین دي او ددې څلورگونو اصولو څخه ثابت شوي مسائلو ته «فقه» وایي او له دې څخه انکارکول، له حدیث څخه د انکار کولو په څېر د دین د تحریف له لویو اسبابو څخه دي.

## د الله ﷻ په لاره کې جهاد

د اسلام د سپیڅلي دین له دښمنانو سره مسلحانه جگړې او د اسلام د سپیڅلي دین د سرلوړي لپاره له خپل ځان او مال څخه تېرېدلو ته د الله ﷻ په

لاره کې جهاد ( فی سبیل الله جهاد ) وایي. د الله ﷻ په لاره کې جهاد د اسلام د سپېڅلي دین سرلوړی، د دین ساتنه، د دین نافذیدل، د دین بقاء، د مسلمانانو د عزت او عظمت، او د مسلمانانو د ځان، مال، قدر او شوکت ساتنه ده.

متعال خدای ﷻ د توبې په سوره کې فرمایي:

إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ.

ژباړه: بېشکه چې الله له مؤمنانو څخه ددوی نفسونه او ددوی مالونه پېرودلي (آخیستلي) دي. (چې خپل ځان او مال په جهاد کې ښندي (قربانوي) په عوض ددې چې بېشکه شته ( په بدل د دغه جهاد) دوی ته جنت، (دغه پېرودل) په دې شان دی چې دوی د الله په لاره کې جنګونه کوي، نو (کله) وژني مؤمنان دا (کفار) او ( کله د کفارو له لورې ) وژل کیږي دغه مؤمنان. ۱۱۱ آیه.

الله ﷻ د صف په سوره کې فرمایي:

إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِهِ صَفًّا كَأَنَّهُم بُنْيَانٌ مَّرْصُوصٌ.

ژباړه:بېشکه الله ﷻ خوښوي هغه کسان چې دده (د دین ) په لاره کې په صف تړونکي ډول سره داسې جهاد کوي ګواکې د پولادو په څېر ټینګ ولاړ دي.۳ آیه.

حضرت رسول الله ﷺ فرمایي:

مَنْ قَاتَلَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَوَاقَ نَاقَةٍ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ.

ژباړه:هر څوک چې د څو دقيقو په اندازه د الله ﷻ په لاره کې جهاد وکړي، جنت ورته واجب ګرځي.[۱]

حضرت رسول اکرم ﷺ په خپله اوه ويشت ځله د جهاد په موخه سفر ته تللی دی، او هيله يې کړېده تر څو د الله ﷻ په لاره کې شهيد شي.

## د جهاد ډولونه

جهاد پر دوه ډوله دی: اقدامي جهاد او دفاعي جهاد.

## اقدامي جهاد

د کفارو ملکونو ته د لښکر استل او له هغوی سره جګړه کولو ته اقدامي جهاد وايي. په اقدامي جهاد کې بايد لمړی کفارو ته د اسلام بلنه ورکړل شي، که چيرې هغوی ونه منله، له هغوی څخه به جزيه وغوښتل شي، او که چيرې يې د جزيې له ورکولو څخه (انکار او ) ډډه وکړه، له هغوی سره به جګړه وشي.

[۱] جامع الترمذی:۲۳۳/۳ حديث ۱۶۵۰أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجَهَادِ، بَابُ مَا جَاءَ فِيْ فَضْلِ الْغُدُوِّ وَالرَّوَاحِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ|سنن ابی داود:۱۹۵/۴ حديث ۲۵۴۱اول کتاب الجهاد، باب فيمن سأَلَ اللهَ تعالى الشهادة.

اقدامي جهاد په عادي حالتونو کې کفايي فرض دی او په هغه صورت کې چې اميرالمؤمنين فرمان ورکړي (ټولو خلکو ته په راوتلو باندې امر وکړي)، فرض عين ګرځي.

## دفاعي جهاد

که چيرې کافران د مسلمانانو پر ملک حمله وکړي، د هغه ملک پر مسلمانانو باندې دکفارو د حملې دفع کولو ته دفاعي جهاد وايي.که چيرې د هغه ملک مسلمانان دکفارو د حملې د دفع کولو توان ونلري او يا هم توان يې لري، خو لټي کوي . پدې صورت کې ددوی ګاونډي مسلمانان بايد د کفارو حمله دفع کړي. دفاعي جهاد فرض عين دی.

## د جهاد روزنه

له جهاد څخه مخکې د جهاد روزنه هم اړينه ده.د جهاد روزنه د رسول اکرم ﷺ سنت دی.د قرآن کريم د انفال په سوره کې راغلي دي:وَ أَعِدُّوْا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ.

ژباړه:او (ای مؤمنانو) ددغو (عهد ماتوونکو يا د مطلق کفارو) سره د جهاد لپاره خومره چې توانيږی، قوت (د جنګ اسباب) را ټول کړئ. ۶۰ آيه.

الله ﷻ دې مونږ ټولو ته د جهاد توفيق عطا کړي او د جګړې په ميدان کې دي شهادت زمونږ په برخه کړي. آميـن.

## ﴿مرګ او له مرګ څخه وروسته ژوند﴾

کله چې انسان مري، هغه په يو ځای کې ښخېږي . هغه ځـای تـه «قبـر» ويل کيږي. که چيرې کوم مړی په اور وسيزي يا په اوبو کې ډوب شـي او يـا هم هغه کوم حيوان وخوري، دده روح به دده د بدن له ذراتو سره که په هـر ځای کې وي يو ځای کړل شي او هم هغه ځای به ورته «قبر» وګرځول شي.

په قبر کې د نکير او منکر په نامه دوې مَلَکې د پوښتنې لپاره راځـي او لـه مړي څخه درې پوښتنې کوي.

﴿۱﴾ «مَنْ رَبُّکَ» ، خدای دې څوک دی؟

﴿۲﴾ «مَنْ نَبِيُّکَ» ، پيغمبر دې څوک دی؟

﴿۳﴾ «مَا دِيْنُکَ» ، دين دې څه دی؟

هر انسان چې پورتنيو دريو پوښتنو تـه سـم ځـواب ورکـړ، پـه قبـر کـې بـه سکون او هوساينه ومومي او له جنت څخه به يوه کړکۍ ورته خلاصه شـي او قبر به يې ورته د جنت له باغچو څخه يوه باغچه وګرځول شي.

او هر چا چې پورتنيو دريو پوښتنو ته سم ځواب ورنکړ، قبر به يې تنـګ او ورته د جهنم له کندو څخه يوه کنده وګرځـول شي.حضـرت رسـول الله ﷺ فرمايلي دي:

إِنَّمَا الْقَبْرُ رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ أَوْ حُفْرَةٌ مِنْ حُفَرِ النَّارِ.

يعنې قبر د جنت له باغچو څخه يوه باغچه يا د دوژخ له کندو څخه يوه کنده ده.[1]

## قيامت

کله چې متعال خدای ﷻ اراده وکړي ترڅو پوري دغه نړی له منځه يوسي، حضرت اسرافيل علیه السلام ته حکم کوي ترڅو په شپېلۍ کې پو وکړي .د شپېلۍ آواز به په لمړي ځل ډير سپک او د خوښې وړ وي، خو ورو ورو ډيرېږي او د ډير لوړ آواز له امله به يې ټول انسانان، پيريان ، ښاروي، الوتونکي او نور حيوانات په حيرانۍ او سرګردانۍ سره هرې خواته منډې وهي .او کله چې د شپيلۍ آواز لوړېږي، ټول مري.آسمان به وشليږي او ستوري به له منځه ولاړ شي، او د متعال خدای ﷻ له ذات څخه پرته هېڅ څيز نه پاته کيږي.

د يو څه مودې له تېرېدلو څخه وروسته الله ﷻ حضرت اسرافيل علیه السلام بيا ژوندی کوي او هغه ته امر کوي تر څو شپېلۍ پو کړي چې دا ځل به د شپېلۍ د پو کېدلو له امله ټول مخلوقات بيا ژوندي کيږي او مړي به له خپلو قبرونو څخه پاڅيږي. دغه ورځ د قيامت ورځ ده او پدې ورځ کې به هر بنده د خدای تعالی په وړاندې حاضريږي او له هغه سره به خبرې وکړي.د بنده او د الله ﷻ په منځ کې به هېڅ ژباړونکی نه وي.

---

[1] جامع الترمذی:۶۳۹/۴حديث۲۴۶۰، أَبْوَابُ صِفَةِ الْقِيَامَةِ وَالرَّقَائِقِ وَالْوَرَعِ

کوم عملونه چې په نړۍ کې يې ترسره کړي وي، د هغه مخ ته راوړل کيږي او له هغو څخه بايد ځواب ورکړي. د انسان هر عمل د الله ﷻ په علم، لوح محفوظ او د کراماً کاتبين په دفترونو کې ثبت دي.

څرنګه چې ټيپ «ضبط کوونکي» د انسان غږ ضبطوي، همداسې ځمکه هم د انسان هر عمل ثبتوي او د قيامت په ورځ به ټول راوباسي او ګواهي به ورکوي چې دغه انسان په پلانکي وخت او په پلانکي ځای کې دغه «ښه يا بد» کار ترسره کړی و و.د انسان د بدن غړي به هم په هغه ورځ کې د ژبې بيان ولري ، او هغه به د انسان په حق کې او يا د هغه پر خلاف شهادت ورکوي.

حضرت رسول اکرم ﷺ به په هغه ورځ شفاعت کوي.او دغه سعادت به د هغو کسانو په برخه کيږي چې د آنحضرت ﷺ رښتوني لارويان و و. لار ورک خلک به لدې سعادت څخه محروم او بې نصيبه وي.

په هغه ورځ به ميزان (تله) کېښودل شي او عملونه به پر هغه تلل کيږي، او د صراط پل به د دوزخ پر سر وي چې له ويښته څخه به نازکه او له تورې څخه به تېره وي او هر څوک به له هغه څخه تېرېږي . د هر چا چټکتيا (سرعت) به د هغه د عملونو پر بنسټ وي. د قيامت ورځ ددې نړۍ له پنځوسو زرو کلونو سره برابره ده. په هغه ورځ به مرګ د پسه په څېره کې راوستلی شي او ذبح به شي. دا ددې نښه ده چې لدی څخه وروسته به هېڅوک نه مري.د جنت او د دوزخ اوسېدونکي به د تل لپاره ژوندي وي.

دغه ورځ د پرېکړې ورځ ده او له پرېکړې څخه وروسته به د جنت ورکسان جنت ته، او د دوژخ ورکسان دوژخ ته ځي.

## د قیامت وړې نښې

د قیامت وړې نښې هغه نښې دي چې ځینې یې ډیره موده مخکې منځته راغلي دي، ځینې نور یې د منځته راتلو په حال کې دي او ځینې نور به یې د قیامت د لویو نښو تر رامنځته کېدلو پورې څرګندېږي .د قیامت وړې نښې ډیرې دي، خو څو نښې یې په لاندې ډول دي:

- شپانه به د ویاړ او ډول لپاره لوړ پوړیزې ودانۍ جوړوي.
- ظلم او ستم به ډیرېږي.
- شرم او حیا به له منځه ځي.
- شراب به د شربت، سود به د تجارت او رشوت به د ډالۍ په نامه ونومول شي.
- علم به پورته کړل شي او جهالت به عام شي.
- چارواکي به د مسلمانو بیت المال لوټ کړي.
- زکات به مالیات وګڼل شي.
- دین به د دنیا د لاسته راوړلو لپاره وکارول شي.
- خاوند به له خپلې ښځې څخه اطاعت کوي او د خپلې مور نافرماني به کوي.

- انسان به له خپل ملګري سره مینه کوي، او له خپل پلار سره بې پروایي.
- ذلیل او فاسق کسان به د ملکونو واکمنان شي.
- سندرغاړې ښځې به ډیرې نامتو شي.
- خلک به د خدای تعالی ﷻ په جوماتونو کې په هسک غږ سره خبرې کوي.
- د شرابو څښل به عام شي.
- هغه کسان چې د امت په وروستني پړاو کې راځې، پر مخکنیو مسلمانانو به لعنت وایي.
- نارینه به د ښځو په شان وریښمینې جامې اغوندي.
- درواغ او کذب به خورا عام شي.

## د قیامت لویې نښې

هغه نښې دي چې حضرت رسول اکرم ﷺ د هغو په هکله فرمایلي دي چې دغه به له قیامت سره په نږدې وختونو کې څرګندې شي. د بېلګې په توګه، د حضرت مهدي راوتل، د دجال راوتل، له آسمان څخه د سیدنا حضرت عیسی بن مریم علیه السلام کښته کېدل، د یاجوج او ماجوج او دابة الارض راوتل او داسې نور.

## د حضرت مهدي ښکاره کېدل

### ۱

د قيامت لمړنۍ لويه نښه د امام مهدي ﵁ ښکاره کېدل دي. «مهدي» په لُغَتْ کې هدايت شوي کس ته ويل کيږي .د لُغَوِي معنی په اعتبار سره نه يوازې هر هغه عالم ته چې د سم علم لرونکي وي «مهدي» ويلای شو، بلکې هر رښتينی او ثابت قدمه مسلمان ته مهدي ويلای شو، خو له هغه راتلونکي مهدي ښخه چې حضرت رسول الله ﷺ مونږ ته په خپلو احاديثو کې د هغه له ښکارېدلو ښخه خبر راکړی دی، چې هغه به په آخره زمانه کې ښکاريږي، يو ځانګړی کس دی، چې د حضرت فاطمې ﵄ لـه اولادې ښخه به وي او د هغه نوم به محمد او د پلار نوم به يې عبدالله وي. پـه سـيرت کـې بـه لـه حضـرت رسـول الله ﷺ سـره ورتـه وي، د مديني منورې اوسېدونکی به وي او له مکې مکرمې ښخه به ښکاره شـي.د عراق او شام[1] اولياء او ابدال به د هغه په لاس کې بيعت وکړي او هغه زيرمه به چې د کعبې په خونه کې ښخه ده، راوباسي او د مسلمانانو په مـنځ کـې به يې وويشي. لمړی به په عربي هيوادونو او وروسته به پر ټولې نړۍ حکومت کوي او هغه نړۍ به چې له ده ښخه مخکې له ظلم او ستم ښخه ډکـه وه، له عدل او انصاف ښخه ډکه کړي او د محمدي ﷺ شريعت پر بنسټ به عمل کوي.

[1] شام: د سوريې، اردن، فلسطين او اوسنی اسرائيل د هيوادونو ټولګه پخوا د شام په نامه يادېدله.

د حضرت مهدي په وخت کې به دجال څرګندېږي او په همدغه وخت کې به حضرت عیسی علیه السلام د مازدیګر لمانځه سره په نږدې وخت کې له آسمان څخه د دمشق د جومات پر ختیځه مناره باندې کښته کیږي، او د حضرت مهدي شاته به لمونځ کوي.حضرت مهدي به له نصاراؤ سره جهاد وکړي او قسطنطنیه به فتح کړي.

## د دجال راوتل

## (۲)

د قیامت دویمه لویه نښه د دجال راوتل دي چې له متواترو احادیثو او د امت له اجماع څخه ثابته ده.

دَجّال له دَجَلَ څخه اخیستل شوې ده چې لُغَوي معنی یې ډېر دروغجن، ډېر مکار، ډېر فریبکاره او د حق او باطل ګډونکی دي.د لُغَوی معنی په اعتبار سره هر دروغجن او مکار ته دجال ویلای شو، خو کوم راتلونکی دجال چې په نبوي سپېڅلو احادیثو کې له هغه څخه یادونه شوېده، یو ځانګړی کافر کس دی چې د یهود له قوم څخه دی او لقب به یې مسیح اَعوَر وي. پدې لقب سره دده د نومونې لامل دا دی چې هغه به له یوې سترګې څخه ړوند وي او له مسیح څخه دلته مراد دا دی چې ګواکې پر یوه سترګه باندې د لاس د کښېکارېلو له امله ړوند کړی شوی دی. دده د دوو سترګو تر منځ « ک ف ر» لیکل شوي دي.

دجال به لمړی د عراق او شام له منځه څرګندیږي او د پیغمبري دعوی به کوي.بیا به وروسته اصفهان ته راځي او هلته به اویا زره یهودیان له هغه

ښځه لاروي کوي. بیا به د خدائي دعوی کوي او په ځمکه کې به فساد اچوي. متعال خدای ﷻ به د خپلو بندګانو د آزموینې په موخه د هغه په لاس عجیب او غریب کارونو ښرګندوي.په پای کې به دجال یو کس مړ کړي او بیا به یې ژوندی کړي او بیا به هوډ ونیسي ترڅو بیا یې ووژني، خو دا ځل به د هغه پر وژنې برلاسی نشي او پدې ډول به ټولو خلکو ته ښرګنده شي چې دی د خپلې خدائي په درسته دعوی کې دروغجن دی.

لمړی دا چې د یوې سترګې ړوندوالی یې د نه معبودیت ښرګند دلیل دی. دویم دا چې د دواړو سترګو په منځ کې به یې «ک ف ر» لیکل شوي وي.دریم دا چې قتل کول داسې یو فعل دی چې د بشر په واک کې دی، خو که بیا هم دغه بشري قدرت په کې نه وي چې وکولای شي بل څوک مړ کړي، نو د خدائي دعوی به یې ښرنګه رښتیا وي؟ او دا څو ورځې چې مړي د هغه پر لاس ژوندي کېدل، په حقیقت کې د الله ﷻ فعل وو چې یوازې د بندګانو د آزموینې او د دجال د استدراج لپاره د هغه پر لاس ښرګندیدل.

## د دجال د راوتلو وخت:

حضرت مهدي رضي الله عنه به له ښرګندیدلو ښخه وروسته له نصارا سره جګړه او جهاد وکړي تر څو پورې چې قسطنطنیه فتح کړي، شام ته به بېرته ستون شي او د دمشق په ښار کې به مېشت او د مسلمانانو د کارونو په انتظام به بوخت شي.دجال به په همدې وخت کې ښرګند شي.

دجال به له خپل لښکر سره د ځمکې پر سر ګرځي او فساد به رامنځته کوي او د یمن خاورې ته به رسیږي او له هغه ځایه به مکې مکرمې ته مخ کړي، خو ساتندویه ملائکې به له مکې مکرمې څخه ساتنه کوي، ځکه خو هغه د مدینې منورې خواته مخ ګرځوي.خو ساتندویه ملائکې د مدینې منورې د ښار په دروازو کې هم شتون لري او دجال نشي کولای ترڅو مدینې منورې ته ننوځي. په پای کې هغه د شام په لور بیرته ګرځي او بیا حضرت عیسی ﷵ په داسې حال کې چې دواړه لاسونه یې د دوو ملائکو پر وزرونو ایښی وي له آسمان څخه د دمشق د جامع جومات پر ختیځې منارې باندې کښته کیږي او لعین دجال به وژني څرنګه چې په وروستنۍ ښنه کې بیانیږي.

## ﴿ د عیسی بن مریم ﷵ کښته کېدل ﴾

﴿۳﴾

د قیامت دریمه لویه نښه دا ده چې قیامت ته نږدې به حضرت عیسی ﷵ له آسمان څخه کښته کیږي او دجال به وژني.دا امر حق او ربښتونې ده، د قرآن مجید له آیاتو، له متواترو احادیثو او د امت له اجماع څخه ثابته ده. پر هغه باندې ایمان راوړل او د هغه تصدیق کول فرض او اړین دی.

د یوې سترګې لرونکی دجال به راوتلی وي. حضرت مهدي ﵁ به د دمشق په جامع جومات کې لمانځه ته چمتووالی نیولی وي چې ناڅاپه به حضرت عیسی ﷵ په داسې حال کې چې خپل دواړه لاسونه یې د ملائکو پر وزرونو ایښي وي له آسمان څخه د دمشق د جامع جومات پر ختیځه

مناره کښته کيږي او له لمانځه څخه د فارغيدلو څخه وروسته به له حضرت مهدي سره يو ځای پر دجال يرغل کوي.

د حضرت عيسى عليه السلام په نفس کې به ځانګړې اثر وي او کافران به د هغه مبارک د نفس تاب او توان ونلري.هر کافر ته چې د حضرت عيسى عليه السلام نفس ورسيږي، هم هلته به مري. دجال به حضرت عيسى عليه السلام ته په ليدو سره داسې ويلې شي لکه څرنګه چې مالګه په اوبو کې ويليږي.حضرت عيسى عليه السلام به دجال ښاري او د « باب لُد » نومي سيمه کې به هغه وژني او مسلمانانو ته به د هغه وينه ښيي او د اسلام لښکر به د دجال له لښکر سره چې يهوديان دي، مقابله کوي او هغوی ټول به وژني او په دې ډول به د ځمکې مخ له مردار دجال او له مردارو يهودانو څخه چې دغه ادعا يې لرله مونږ حضرت عيسى بن مريم عليه السلام مخکې وژلی دی، پاکه شي او هغوی به د سر په سترګو وګوري چې حضرت عيسى عليه السلام تر اوسه پورې په آسمان کې ژوندی وو او اوس مهال زمونږ د وژلو لپاره له آسمان څخه ځمکې ته کښته شوی دی.

## حضرت عيسى عليه السلام او حضرت امام مهدي دوه جلا کسان دي:

له هغو احاديثو څخه چې د مهدي رضي الله عنه او د حضرت عيسى عليه السلام په هکله راغلي دي د رڼا ورځې په څېر روښانه ده چې حضرت عيسى عليه السلام او حضرت مهدي رضي الله عنه دوه جلا کسان دي.

د صحابه کرامو له زمانې څخه تر اوسه پورې هېڅ څوک پدې قائل نه دې چې کوم مسیح چې له آسمان څخه کښته کیږي له حضرت مهدي سره یو کس دي، ځکه چې:

﴿❁﴾ حضرت عیسی بن مریم عليه السلام د الله جل جلاله نبي او رسول دی، حال دا چې حضرت مهدي به د محمدي امت خلیفه وي، نه نبي او پیغمبر.

﴿❁﴾ حضرت مسیح بن مریم عليه السلام د بي بي مریم له ګېډې څخه، د پلار له لرلو څخه پرته، د حضرت رسول اکرم ﷺ له بعثت څخه شپږ سوه کاله مخکې د بني اسرائیلو په ټبر کې زیږېدلی وو، حال دا چې حضرت مهدي به د قیامت سره په نږدې وختونو کې، په مدینه منوره کې نړی ته سترګې پرانیزي او د پلار نوم به یې عبدالله وي.

﴿❁﴾ حضرت عیسی عليه السلام د حضرت بي بي مریم ځوی دی، حال دا چې حضرت مهدي د حضرت بي بي فاطمة الزهرا رضي الله عنها له اولادې څخه دی.

## یوه شبهه او دهغې لیرې کول:

په یو روایت کې داسې راغلي دي:

وَلَا الْمَهْدِىُّ اِلَّا عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ، یعنی مهدي له حضرت عیسی بن مریم عليه السلام څخه پرته بل څوک نه دی.[1]

په ظاهري نظر سره، لدې روایت څخه داسې ښرګندیږي چې حضرت عیسی بن مریم عليه السلام او حضرت مهدي دواړه یو کس دی.

[1] سنن ابن ماجه:۱۳۴۰/۲حدیث۴۰۳۹کِتَابُ الْفِتَنِ،بَابُ الصَّبْرِ عَلَى الْبَلَاءِ

ځواب دا دی چې دغه روايت د محدثينو په وړاندې کمزوری او غير مستنده دی، لکه څرنګه چې حافظ ابن حجر رحمه الله د فتح الباري د ۶ ټوک په ۳۵۸پاڼه کې پرې څرګندونه کړېده.

دويم دا چې دغه روايت د هغو ګڼ شمېر صحيحو او متواترو احاديثو پر خلاف دی کوم چې په هغو کې په بشپړ ډول څرګنده او روښانه ده چې د حضرت عيسى بن مريم عليه السلام او د حضرت مهدي رضي الله عنه جلا والی ښيي.او په دې بايد پوهېږو چې ضعيف او منکر روايت د متواتر روايت په وړاندې د اعتبار وړ ندی.

## ﴿ د ياجوج او ماجوج راوتل ﴾

## ﴿۴﴾

د حضرت عيسى عليه السلام له کښته کيدلو او د دجال له وژل کيدو شخه يو څه موده وروسته، حضرت امام مهدي رضي الله عنه وفات کوي. حضرت عيسى عليه السلام د هغه مبارک د جنازې لمونځ اداکوي.حضرت مهدي په بيت المقدس کې وفات کوي او هم هلته خاورو ته سپارل کيږي. د حضرت مهدي له مړينې څخه وروسته به د حکومت ټولې چارې د حضرت عيسى عليه السلام په لاس وي.د عيسى عليه السلام د حکومت زمانه به په ډېر سکون او خورا هوساينې سره تېر شي چې ناببره وحی راځي چې ای عيسى عليه السلام زما بندګان د طور غره ته ننږدې يوسه، زه اوس داسې يو قوم څرګندوم چې هېڅوک له دوی سره

د جګړې توان نلري.هغه قوم یاجوج او ماجوج دي چې د یافث بن نوح ﷺ له اولادې څخه دي.

ذوالقرنین باچا د دوو غرونو تر منځ د یو اوسپنیز دیوال په جوړو لو سره د یاجوج او ماجوج لاره بنده کړې وه. قیامت ته نږدې زمانه کې به دغه دیوال لـه منځـه ځـي او دغـه لوټمـار قـوم بـه د ملـخ د طوفـان پـه څېـر هـرې خواته راوځي او په نړۍ کې به فساد کوي.(د دوې کیسه دکهف د سورې له ۹۳ آیې څخه تر ۹۸ آیې پورې راغلې ده.)

حضرت عیسی ﷺ به له خپلو ملګرو سره یو ځای د طور د غره په لور لاړ شي او پاتې خلک به ځانونه په خپلو کلاګانو او کورونو کې خوندي کړي. حضرت عیسی ﷺ به د طور په غره کې دعا وکړي چې متعال خدای ﷻ دې یاجوج او ماجوج د طاعون په بیمارۍ سره هلاک کړي. خـدای ﷻ د حضرت عیسی ﷺ دعا قبلوي او یاجوج او ماجوج د طاعون په بیمارۍ سره هلاکوي او دوی ټول به ددې آسماني بلا له امله مري.

متعال خدای ﷻ به هغه مهال د اوږدو غاړو لرونکي داسې مرغـان ځرګنـد کړي چې د یاجوج او ماجوج له جسدونو څخه به یو څه خـوري او پـاتې نور به یې په سیند کې واچوي.وروسته به د رحمت باران نازل شي او دغه باران به ددې مردارو جسدونو ناوړه بوی له منځه یوسي او ژوند به یو ځل بیا له آسانۍ او سوکالۍ سره پر مخ ځي.

حضرت عیسی ﷺ به څلویښت یا پنځه څلویښت کاله ژوند وکړي او بیا به وفات شي او په مدینه منوره کې به ښخ کړل شي.

حضرت عیسی عليه السلام به له خپلې مړينې څخه وروسته د قحطان له قبیلې څخه د جهجاه په نوم یو کس د خپل ځای ناستې په توګه وټاکي، چې هغه به له عدل او انصاف سره حکومت کوي، خو شر او فساد به هم لږ لږ پيل شي.

## ﴿ د لوګي راوتل ﴾

﴿۵﴾

د جهجاه له مړینې څخه وروسته به څو نور حکمرانان تیر شي. شر، فساد، کفر او الحاد به ډیریږي. پدې وخت کې به د تقدیر د منکرینو یو کور په ختیځ او بل کور په لویدیز کې، په ځمکه کې دننه شي او په همدې وخت کې به په آسمان کې یو لوی لوګی څرګند شي چې له آسمان څخه تر ځمکې پورې به ټول شیان په ځان کې دننه باسي او خلک به د هغه له امله له سالندې سره مخامخ شي. دغه لوګی به د څلويښتو ورځو لپاره پاتې وي او پر مسلمانانو باندې به د زکام په څېر تېر شي، خو کافران به بې سده وي او له دوی څخه به ځینې د یو او دوو او ځینې نور له دریو ورځو څخه وروسته بیا په سد راځي. په قرآن مجید کې له دغه لوګي څخه یادونه شویده.

**يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءَ بِدُخَانٍ مُبِيْنٍ يَغْشَى النَّاسَ هَذَا عَذَابٌ أَلِيْمٌ.**

ژباړه:نو هغې ورځې ته انتظار واوسه چې له آسمان څخه یو لوګي څرګند شي..... د دخان د سورې ۱۰ آیه.

## د دَابَةُ الاَرْض راوتل

## ﴿۶﴾

د قیامت له لویو نښو څخه یوه هم د دَابَّةُ الْأَرْضِ راوتل دي چې په قرآني آیې سره ثابته ده.

وَإِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ أَخْرَجْنَا لَهُمْ دَابَّةً مِّنَ الْأَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ أَنَّ النَّاسَ كَانُوا بِآيَاتِنَا لَا يُوقِنُونَ.

ژباړه: او کله چې د قیامت د وقوع وعده نږدې شي، نو مونږ به د خلکو د عبرت لپاره له ځمکې څخه یوه دابه ( ژوندی خوځېدونکی تلونکی) وباسو چې دغه (دابه) به له دوی سره خبرې کوي( او هغوی ته به وایي چې قیامت نږدې دی.او ددې ژوندي خوځېدونکي تلونکي راوتل ددې لپاره دی ) چې خلکو زمونږ په نښو یقین نه کاوه.د نمل د سورې۸۲ آیه.

دغه ژوندی خوځیدونکی تلونکی به هم هغه ورځ له ځمکې څخه راوځي چې لمر له لویدیځ څخه راوځي.

په هغه ورځ به په مکه مکرمه کې د صفا نومي غونډۍ وچوي او د هغې له منځ څخه به یو عجیب الخلقته ژوی راوځي. متعال خدای ﷻ به دغه ژوی د صفا د غونډۍ له کاڼو څخه داسې راوباسي لکه څرنګه چې یې د حضرت صالح ﷺ اوښه دکاڼو له منځه راویستلې وه.دغه ژوی به د قیامت له راتلو څخه خلکو ته خبر ورکوي او د مؤمنانو پر څیرې به نوراني نښه ږدي چې د هغې نښې له امله به د مؤمنانو څیرې روښانه شي او دکافرانو

د دوو سترګو تر منځ به داسې مهر ووهي چې له هغې سره به د هغوی څېره توره ګرځي او د وَامْتَازُو الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُوْنَ، د سپېڅلې آيې پر بنسټ مسلمانان او مجرمان به له يو بل څخه توپير شي.د دوی په منځ کې بشپړ امتياز او توپير به له حساب او کتاب څخه وروسته کيږي.

## سوړ باد

## ۷

د دابة الارض له وتلو څخه يو څه موده وروسته به يو سوړ باد ولګي چې ددې سوړ باد له امله د ايمان او خير لرونکي ټول خلک مري ، څرنګه که چيرې کوم مؤمن د کوم غره په سوري کې هم پټ شوی وي، دغه باد به هلته هم رسيږي او هغه مؤمن به له همدې امله مري. نيکان خلک بـه ټول ومري او د بدی او ښيګڼې تر منځ توپير کوونکی کس ژوندی نه پاته کيږي.

## د حبشيانو تسلط او د کعبې ويجاړتيا

## ۸

لدې څخه وروسته به د حبشې کفار مسلط شي او د ځمکې پر مخ به سلطنت کوي.ظلم او فساد به خور شي.بې شرمي او بې حيائي به عامه شي.خلک به د ښارويو په څير د بازارونو پر سر جماع (زنا) کوي.حبشيان به

د کعبې د خونې هره خښته ویجاړه کړي.په سپیڅلي حدیث کې داسې راغلي چې:

لَا يَسْتَخْرِجُ كَنْزَ الْكَعْبَةِ اِلَّا ذُو السُّوَيْقَتَيْنِ مِنَ الْحَبَشَةِ.

ژباړه:(له حضرت مهدي څخه وروسته (د کعبې په خونه کې ټول شوي مالونه او شتمني به یو حبشي کس چې وړې پونډۍ لري وباسي.[1]

## د اور راوتل

## ۹

د قیامت تر ټولو وروستۍ نښنه دا ده چې د یمن له منځنۍ برخې څخه به یو اور راووځي چې له هرې خوا به خلک د شام[2] لوري ته واستوي، ځکه چې دوی به له مرګ څخه وروسته له هغه ځای څخه حشر کیږي. دغه اور به شپه او ورځ له خلکو سره وي او د سهار پر مهال به د لمر په څیر پورته کیږي او خلک به د شام په لور واستوي.او کله چې خلک شام ته ورسیدل، دغه اور به ورک شي.

په صحیح مسلم شریف کې له حضرت حُذَيفَه بن اُسَيد غفاري ﷺ څخه روایت دی چې حضرت پیغمبر ﷺ د قیامت لس نښې بیان کړلې او وروستۍ نښه یې دا ده:

وَ آخِرُ ذٰلِکَ نَارٌ تَخْرُجُ مِنَ الْيَمَنِ، تَطْرُدُ النَّاسَ اِلَى مَحْشَرِهِمْ.

---

[1] مسند احمد:۲۲۶/۳۸حدیث۲۳۱۵۵

[2] شام: د سوریې، اردن، فلسطین او اوسنی اسرائیل د هیوادونو ټولګې ته په پخوانیو وختونو کې شام ویل کیده.

وروستۍ نښه يې هغه اور دى، چې له يمن څخه به راووځي او خلک بـه د دوى د حشر د سيمې په لور يعنې د شام په لور يوسي.[1]

لدې څخه وروسته به يو څه موده تيره شي او دغه موده به په ډير عيش او سکون سره تيره شي. د بوتانو لمانځل او کفر خوريږي او د ځمکې پر سر به داسې يو کس چې الله ووايي ، پاتې نشي. هغه مهال د قيامت وخت رسيږي او حضرت اسرافيل عليه السلام ته به امر کيږي چې په شپيلۍ کې پو کړي او قيامت به منځته راشي.

## ﴿ پاملرنه ﴾

په اکثرو احاديثو کې د اور راوتل د قيامت له لويو نښو څخه وروستۍ نښه بلل شوېده خو د بخاري شريف په يو حديث کې داسې راغلي چې د قيامت لمړۍ نښه هغه اور دى چې خلک به له ختيځ څخه د لويديز په لور يوسي. ددې دوو روايتونو په منځ کې داسې تطبيق کولای شو چې د اور راوتل د قيامت د مخکنيو نښو په پرتله د قيامت د نږدې والي وروستۍ نښه ده، خو له دې امله چې د دې نښې او د شپيلۍ د پو کيدلو تر منځ کومه بله نښه نشته او له هغه سره نږدې شپيلۍ پو کيږي، ورته د قيامت د راتلو لمړۍ نښه ويل شوېده.

---

[1]صحيح مسلم:۲۲۲۵/۴حديث۲۹۰۱كِتَابُ الْفِتَنِ وَأَشْرَاطِ السَّاعَةِ، بَابُ فِى الْآيَاتِ الَّتِىْ تَكُوْنُ قَبْلَ السَّاعَةِ.

# د انسان پای اعتبار لري

## عقیده

انسان که د ژوند په اوږدو کې هر څومره ښه وي او یا بد، په هر حالت کې چې دده پای واقع شي، د خپلې هم هغې خاتمې پر بنسټ به ښه جزا یا بده جزا ګوري.[1]

## عقیده

انسان که د خپل عمر په اوږدو کې ، هر کله وغواړي توبه وکړي او یا مسلمان شي، الله ﷻ یې توبه قبلوي. البته کله چې مرګ رسیږي او د عذاب ملکې د سترګو مخې ته راشي، هغه مهال نه توبه منل کیږي او نه هم ایمان.[2]

---

[1] یعنې که څیرې له نړۍ څخه له ایمانه سره سترګې پټې کړی، ښه عملونه به یې اعتبار لری او جنت ته به ولاړ شی.خو که څیرې له نړۍ څخه بې ایمانه ولاړ شی، ښه عملونه به یې هم باطل شی او ځای به یې هم دوزخ وی.

[2] له توبې څخه مراد، له ګناهونو څخه توبه ایستل او له ایمان څخه مراد، له کفر او شرک څخه توبه ده.

# د لیکوال پېژندلیک

# د ليکوال پېژندليک

| | |
|---|---|
| نوم: | محمد الياس گُمن |
| د زېږېدو نېټه: | ۱۳۶۹/۴/۱۲ |
| د زېږېدنې ځای: | سرگودا، پاکستان |
| د قرآن کريم حفظ: | د بوهر والا جامع جومات، گوجرانواله. |
| د قرآنکريم تفسير او ژباړه: | د گوجرانوالا د نصرت العلوم په مدرسه کې د اهل سنت والجماعت له امام علامه حضرت سرفراز خان صفدر رحمه الله سره . |
| د نظامي درس پيل: | جامعه بنوريه، کراچي، پاکستان. |
| د نظامي درس پای: | جامعه اسلاميه امداديه، فيصل آباد، پاکستان. |

| | |
|---|---|
| دندي: | (مخکنـی) معهـد الزکریـا، چپاتـا، زامبیا، آفریقا. |
| | (اوسـنی) مرکـز اهـل السـنت والجماعت، سرگودا، پاکستان. |
| | په سرگودا کې د مرکز اهل السنت والجماعت اعلی سرپرست، او د پاکسـتان د اتحـاد مرکـزي اهـل السنت والجماعت ناظم اعلی. |
| تبلیغي سفرونه: | کشـمیر.جنوبي آفریقـا، مـلاوي، زامبیـا، کنیـا، سـنگاپور، سـعودي عربسـتان، متحـده عربـي امـارات، یمـن، برمـا، بحـرین، هانـگ کانگ...... |
| لیکنې: | د اهل سنت والجماعت لمونځ |
| | د فضائل اعمـال پـر کتـاب بانـدې د نیوکو علمي تحلیل |
| | د مناظرې اصول |
| | د اهل سنت والجماعت عقاید |

د صـــراط مســـتقيم نصـــاب (د هلكانو او نجونو لپاره)
القواعد فی العقاید،
زبده الشمائل د ترمذي شرحه
د شلو ركعتونو تراويحو مسئله
د لاسونو د نه پورته كولو مسئله
د هنـد او پاكسـتان د اهـل حـديث د فرقې تحقيقي نقد
د جماعـــت المســـلمين د فرقـــې تحقيقي نقد
د هند او پاكسـتان د بريلـوي فرقـې تحقيقي نقد
د كربلا شهيد او د محرم مياشـت،
المهنـد علـى المفنـد او پـر هغـه باندې د نيوكو تحقيقي نقد
د اسلام د متكلم خطابات
د اسلام د متكلم مضامين
د اسلام د متكلم مجلسونه
د اسلام د متكلم مواعظ.

بیعت او خلافت: لـه عـارف بـالله حضـرت اقـدس مولانـا شـاه حکـیم محمـد اختـر رحمه الله او له امین العلماء او قطب العصر حضرت اقدس مولانـا سـيد محمد امین شاه رحمه الله سره.

اصلاح او ارشاد: اختریـــه خانقـــاه، ســـرگودا

اړیکه:

موبایل، واټس اپ او ټیلیګرام:

۰۰۴۴۷۷۷٦۰۰۳۱۳۷

(Email) ایمیل پته:

miteymori@gmail.com